






فريد احمد « تسکين » ـ پکتيا
د نشر نېټه : ۲۶ اپريل ۲۰۱۳ ميلادی

# د غربي کلتور پلي کيدل او زموږ چوپتيا!

هره ورځ نارې وهو زموږ کلتور د پرديو ترفرهنګي يرغل لاندې دی حکومت دا نه کوي دا نه کوي دايي داسي وکړل او دا يي څنګه وکړل او څنګه يي کوي همداسي نورې نيوکي هم کوو تل موږ حکومت ملامت بللی دی؛خو يوه ورځ مو هم خپل ګريوان ته سر ټيټ نکړ چي دا موږ ولې څه کوو په کومه لاره روان يو، زموږ راتلونکی به څه ولې همداسي ننګونو اوستونزو سره مخ يو؟ او همداسي نور.........

تل موږ بل ته ګوتنيونه کوو خو دلاس پنځه ګوتې مو يو شان نه دي که يوه ګوته بل ته نيسو نورې ګوتې موږ ته نيول کيږي او مخالف لورى شميرل کيږو.

پرون د کابل په پوهنتون کي د شعر سيالي وه ترڅنګ يي ازاده مشاعره هم وشوه خو يو ډول کشمکش او ستونزو سره مخ وه .

په دې مشاعره کي د نارينه وو ترڅنګ ميرمنو هم ګډون کړی و د دري اوپښتو ژبو ويونکو خپل شعرونه وويل او د زړه د درد او مينې ښکارندويي په خپلو شعرونو کي د هنر په ژبه وکړه، په دې ادبي بنډار کي يوه خبره چي ډير يي خواشينی کړم هغه داوه چي د پښتو ژبې د ويونکو شمير ډير کم و او په ډير کم شمير سره راغوښتل شوي وو په دې هم نه پوهيږم چي علت به يې څه وي او ولې دوی ته پکي کمه برخه ورکړل شوې وه؟

ګران لوستونکي دې په دې وپوهيږي چي دا خبرې ما دتعصب لپاره ونه کړه او نه وايم چي ياره دري ژبو خلکو پښتنوسره تعصب وکړ،موږ يي کم شمير راغوښتي وو او يايي موږ ته پکي برخه کمه راکړې وه .

دا د دوی حق دی چي بايد ترې وانه خيستل شي او نه څوک ورسره تعصب وکړي داځکه چي دوی همدومره وړ او با احساسه مفکرين لري يووالی لري د خپل ځوان نسل په درد دردېږي دوی هر ډول ستونزې پرځان تيروي خو خپل ځوان نسل لپاره هر ډول زمينه برابروي ترڅو په راتلونکي کې د

دوی دځای ناستي په توګه کار وکړي او همداسي د دوی په شان راتلونکی نسل هم همدا ډول په ښه مفکوره او روحیه وروزي .
موږ پښتانه چې همداسي خوار او زار یو ځوانان مو د قلم پرځای ټوپک سره ښه مینه کوي له نیشه یي توکوسره لاس او ګریوان دي او همدا ډول نورې ستونزې چې موږ یې پېدونه پرسر وړو دا دچا له لاسه؟
دا زموږ د نا اهلو مشرانو له لاسه ځکه موږ همداسي لکه دا نور قومونه چې خپل بچیان په سالمه روحیه روزي داسي روزل شوي نه یو تل زموږ مشرانو د قلم پرځای ټوپک راکړی دی تل موږ د خپلو نا اهلو مشرانو په پله تګ کړی دی.
موسسي د یوې ځانګړې موخي لپاره پر لاره اچول شوې وه sound centralدغه غونډه د بهرنۍ نه پکي د هنر د ودې لپاره کوم مثبت ګام اخیستل شوی و او نه هم د ځوانانو د یووالي لپاره بلکې د خپل غربي کلتور د ودې لپاره پر لاره اچول شوې وه له یوې خوا یې موږ افغانان سره په دوه ونډه کړي وو چې یو ته یې د دري ژبي او بل ته یې د پښتو ژبي نومونه ورکړي وو.
هغه کمیسیون چې باید د شعر د ارزولو لپاره ځانګړی شي یوازې د دري ژبوکسانو له خوا جوړ شوی و او پښتنو ته پکي هیڅ ونډه نه وه ورکړل شوې او ترڅنګ یې د شعر ویلو لپاره هم کمه ونډه ورکړل شوې وه اوبله یوه مهمه موضوع چې زموږ د کلتو او فرهنګ د بهبود او نابودۍ لپاره وه هغه د غربي دود او دستور پلي کول وو.

په دغه غونډه کي ځیني انګلیسي شعرونه وویل شول چې ټولې خبرې پکي سیکس او لوڅې وې هغسي خبرې وې چې زموږ د ټولنې او اسلامي اصولو خلاف وې دا په انګلیسي ژبه شعرونه هغو کسانو وویل،چې زموږ افغانان دي او د همدغو بهرنیانو سره د فرهنګي سلاکارانو او ژباړونکو په توګه کار کوي.
په دې ښدار کي باید یوازې د افغاني فرهنګ او ادب هنر ښکاره شوی وی نه چې د غربي دود او دستورونو پلي کول.

د همدغې بهرنۍ موسسي افغان کارکوونکی بلوچ نومی چې په دري ژبی یې خبرې کولې او د دغې غونډې د سمبالښت چارې هم ورله غاړې وې د غونډې د پای ته رسیدو وروسته د ځینو فرهنګیانو له غبرګون سره مخ شو چې په دې فرهنګیانو کې زه او زما ملګري هم وو، موږ ورته وویل :ورورہ تاسو ولې موږ ته کمه برخه راکړې وه او ولې دې موږ ته د دې اجازه نه راکوله چې د نورو په شان موږ هم پراخه برخه واخلو؟

ده پرته له دې چې خپله تیروتنه ومني وویل :تاسو پښتانه تعصب کوئ او له دري ژبې نه بد وړئ او دا کار نه دی ښه دا به ملي یووالی مات کړي او تاسو داسي کوئ او هسي کوئ په دې سره یې غوښتل چې د دري ژبو ورونو غوسه هم راوپاروي او خپل غربی بادار خوښ وساتي خو د خدای ج برکت و د دې ناوړه کس خبرې ونه منل شوې او موږ ده او نورو دري ژبي ورونو ته قناعت ورکړو او ورته مو وویل: موږ ته د دري او پښتو مسله نه ده مطرح موږ دا غواړو چې ولې زموږ په افغاني ټولنه کي غربي کلتور او فرهنګ پلی کیږي ولې داسي لوڅې خبرې په شعر کي وشي ولې دا ډول مفکوره خپل مغز ته پیچکاري کړو.

او یوه بله خبر چې زه ورته حیران شوم او سخت زړه مي درد وکړه هغه داو، چې دوی خو په انګلیسي ژبه شعرونه وویل نوولې هغه کمیسیون چې دشعر د ارزولو لپاره ټاکل شوی و دې انګلیسي شعر ته نومرې ورکړل شوې؟

زه دا وايم چې ترڅو به موږ خپل دوښمنان نه پیژنو داسې دوښمن چې د لستوني د مارغوندې ټک راکوي، ترڅو به موږ دا مفکوره مخته وړو او ترڅو به دا در بدر ولس په يو نوم او بل نوم ټکوو ترڅو به دپرديو لاس پوڅيتوب کوو اوتر څو به خپل دوښمنان خوښ ساتو ترڅوبه زموږ پرسره د لوبې امتياز دوی ته ورکوو.

د عزت الله ځواب يو بيت دی چې وايي:

منم پيسې چې د ژوندون قيضه له تاسره ده
رښا له تاسره ده توره شپه له تاسره ده

که د شاعر په خبره د پيسې لپاره د ژوند قدر وکړو نودابه مو خپل ژوندته د تورې تيارې او تباهی لاره کړې وي او خپل نسل به مو د پرديو د مفکوروي يرغل تر اغيزې لاندې راوستی وي او خپل هغه تير تاريخ چې په زرينو کربښو مو نړی ته په نيک نام ليکلی دی شرمولی وي او د خپل پلرني فرهنګ او کلتور زړې جرړې به مو له بيخه باسلې وي .
په دې سره به زموږ هغه سنتي او اسلامي فرهنګ چې هر انسان ته پکې خپل ارونه ټاکل شوي دي او د هر انسان د عزت پوله ټرل شوې او ورانه شوې نه ده له مينځه يوسو.

د افغانستان د هنراو کلتور د ودې ټولنې اداره او هغه افغانان چې غواړي خپل کلتور او فرهنګ له پرديو وساتي د همداسې بهرنيو او کورنيوکړيو مخنيوی کوي او په ګډه به له خپلو افغانانو سره د خپل فرهنګ او کلتور د ودې لپاره متې را بډ وهي او عملي کار به ورته کوي.

دا زموږ ايماني او وجداني مسووليت دی چې بايد ادايې کړو او هرې ستونزې ته د حل لاره ولټوو .
همدا موږد قلم خاوندان د ټولنې سترګې،ژبه او غوږونه يو او بايد چې خپل مسووليت په ښه شکل سره ادا کړو.

د افغاني فرهنګ او کلتور مخته بيوونکي چې غواړي په ريښتيني ډول کار وکړي او وکولای شي افغاني فرهنګ او کلتور مخ پر ودې لاړ شي د داسې خلکو مخنيوی دې وکړي او د افغانستان د قانون په چوکاټ کې دې ورته سزا ورکړی شي.

په همدې هيله
فريد احمد « تسکين »
د افغانستان د هنراو کلتور د ودې ټولنه .
۵/۲/۱۳۹۲ ورى

www.said-afghani.org - بازگشت به صفحه اصلی